إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ یا شا مه اړوئ، بلکې، ختیځ او یا لوېدیځ لوري ته شئ

له ابو ایوب الانصاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ یا شا مه اړوئ، بلکې، ختیځ او یا لوېدیځ لوري ته شئ» ابو ایوب وویل: نو مور شام ته لاړو، ومو لیدل چې کنارابونه قبلې لورې ته جوړ شوي وو، نو مور به تري کرېدلو، او له الله تعالی څخه به مو بخښنه غوښتله.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هر هغه څوک چې د وړوکي یا لوی حاجت رفع کولو اراده ولري قبلې ته له مخ یا شا کولو څخه منع کړی دی، بلکې ختیځ او یا لوېدیځ لورې ته تري باید کور شي، البته که چېرته یې قبله د مدینې د خلکو د قبلې په څېر وي. بیا ابو ایوب رضي الله عنه وویل چې کله دوی شام ته لاړل نو ویې لیدل چې د حاجت رفع کولو لپاره کنارابونه د قبلې لورې ته جوړ شوي دي، نو دوی به خپل ځانونه د قبلې څخه کرول او لدې سره به یې د الله تعالی نه بخښنه غوښتله.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3078